## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**11میزان_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**د ځدرانو، غوټان خېل قوم مشرانو د مهاجرينو چارو له وزير سره وليدل------------------------------------------1**

**په پاکستان او ایران کې د مهاجرینو له اتشو سره انلاین ناسته وشوه ---------------------------------------------1**

**برنامه آگاهی دهی در ولایت غزنی برگزارشد ------------------------------------------------------------------2**

**د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو رییسد ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د اسيايي او اقيانوسي هېوادونو د روغتيا له مسول سره وکتل 3**

**فرانسه: لیل ښار کې د ۲۲ انساني قاچاقبرانو محاکمه پیل شوې ----------------------------------------------------4**

**رسانه‌های ایران: در یک حادثه ترافیکی در ایران ۱۱ شهروند افغانستان جان باختند ---------------------------------6**

**استقبال از دستآورد تاریخی تیم ملی فوتسال افغانستان -----------------------------------------------------------7**

# متن کامل اخبار

## د ځدرانو، غوټان خېل قوم مشرانو د مهاجرينو چارو له وزير سره وليدل

د وزارت ويب سايت



د حاجي عبدالواحد په مشرۍ د ځدرانو، غوټان خېل قوم سپين ږيري او مشران، چې له مختلفو ولايتونو څخه وو، د مهاجرينو چارو له سرپرست وزير الحاج خليل الرحمن حقاني سره دده د کار په دفتر کې وليدل

راغلو مشرانو له ښاغلي حقاني مننه وکړه، چې له ډيرو بوختياو سره يې دوی ته وخت ورکړ او هېواد کې د اسلامي نظام په حاکميت او بشپړ امنيت يې خوښي څرګنده کړه

دوی د خپلو قومي ستونزو ترڅنګ ددغه قوم د راستنو شوو مهاجرينو د تعليم، سرپناه او کاري فرصتونو ستونزې له ښاغلي حقاني سره شريکې کړې او د حل غوښتنه يې وکړه

د مهاجرينو چارو وزير دوی ته د ستونزو د حل په برخه کې د هرډول همکارۍ ډاډ ورکړ او زياته يې کړه، مونږ ته ملت او ملي ارزښتونه لومړيتوب لري او ددې په مقابل کې د نړيوالو فرمايشونه نه منو

ښاغلي حقاني په خپلو خبرو کې د ملت په يووالي او اتفاق ټينګار وکړ او پخوانۍ قومي، سمتي او ژبنۍ تفرقې يې د دښمنو کړيو د لاسوهنو پايله وبلله

## په پاکستان او ايران کې د مهاجرينو له اتشو سره انلاين ناسته وشوه

د وزارت ويب سايت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمان حقاني او د وزارت یو شمېر رئیسانو په پاکستان کې د اسلام اباد، پیښور، کوټې او په ایران کې د تهران، مشهد او زاهدان د مهاجرینو اتشو له مسولینو سره انلاین ناسته وکړه

په دغه ناسته کې په ایران او پاکستان کې د مهاجرینو په عمومي وضیعت، ستونزو او مشکلاتو خبرې وشوې

د اتشو مسولینو د مهاجرینو وضیعت، فعالیتونو او مهاجرینو ته د وړاندې شوو خدماتو په هکله ښاغلي حقاني ته معلومات وړاندې کړل او خپلې اداري ستونزې او اړتیاوې یې شریکې کړې

د مهاجرینو چارو وزیر په خپلو خبرو کې دوی ته د اړتیاو پوره کولو ډاډ ورکړ او د لوی سفارت او نورو اړوندو ادارو سره د همغږۍ سپارښتنه یې ورته وکړه

نوموړي اوویل، مونږ هڅه کوو، چې په کوربه هېوادونو کې د پاسپورت او تذکرې اسانتیاوې رامنځته کړو

ښاغلي حقاني یادو مسولینو ته په کارونو کې د چټکتیا او شفافیت ترڅنګ د اسلامي شریعت او د رسول - صلی الله علیه وسلم- د سنت طریقو په پابندۍ ټینګار وکړ

## برنامه آگاهی دهی در ولایت غزنی برگزارشد

ویب سایت وزارت



**برنامه آگاهی دهی از فواید اسناد مدنی از طرف ریاست امور مهاجرین ولایت غزنی به همکاری موسسه وستا برای 40 تن بر گشت کننده ها و بیجاشده ها از تاریخ 31 سنبله الی 9 میزان به مدت دو روز در آن ولایت برگزراشد.**

**برنامه یادشده در مربوطات ولسوالی جغتو آن ولایت برگذار و در رابطه به مسایل حقوقی و فواید اخذ تذکره وسایر اسناد مدنی آگاهی لازم برای آنان ارایه گردید**

## د هلمند ولایت د مهاجرینو چارو رییسد ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د اسیایي او اقیانوسي هېوادونو د روغتیا له مسول سره وکتل

د وزارت ویب سایت



د هلمند ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو رییس مولوي الله داد انقیادي د تلې پر نهمه د خپل کار په دفتر کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د اسیایي او اقیانوسي هېوادونو د روغتیایي برخې له مسول ښاغلي لکرون داسان یاکي او مل پلاوي سره وکتل.

ښاغلي انقیادي په دې کتنه کې د بې ځایه شویو او جبري راستنو شویو لپاره د روغتیایي مرکزونو د جوړولو، د اوبو شبکو، د واکسیناسیون د تطبیق لپاره د روغتیایي مرکزونو او د مهاجرینو د اوسېدو په سیمو کې د لومړنیو مرستو غوښتنه وکړه، چې له جبري راستنو شویو سره مرسته وکړي.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د اسیایي او اقیانوسي هېوادونو د روغتیا د برخې مسول ژمنه وکړه، چې هېواد ته په جبري توګه راستنو شویو مهاجرینو سره به مرسته وکړي او روغتیایي مرکزونه به جوړ کړي.

## فرانسه: لیل ښار کې د ۲۲ انساني قاچاقبرانو محاکمه پیل شوې

مهاجرنیوز



**د فرانسې په لیل ښار کې د دوشنبې په ورځ د ۲۲ قاچاق وړونکو محاکمه پیل شوه. پر دغو کسانو چې د اروپا بېلابېلو ښارونو کې نیول شوي تور دی چې کډوال یې له فرانسې څخه برېتانیا ته لېږدولي دي.**

**د <u>له وا د ونور</u> ورځپاڼې د خبر له مخې، د لیل محکمې د دوشنبې په ورځ د سپتمبر ۳۰مه د ۲۲ عراقي کردانو محاکمه پیل کړه. د دغو کسانو له ډلې یوازې نیمایي یې محکمه کې حاضر شوي وو .**

**پر یادو کردانو تور دی چې د ۲۰۲۰ او ۲۰۲۲ کلونو ترمنځ یې له فرانسې څخه کډوال برېتانیا ته لېږدولي دي. ډېری دغه کسان د ۲۰۲۲ په جولای کې په فرانسه، هالنډ، بلجیم او المان کې نیول شوي وو .**

**یو تن قاچاق وړونکی په ۲۰۲۱ کې نیول شوی و. د نوموړي تلفوني خبرې ښیي چې د تور له زندان څخه د یادې شبکې مشري یې کوله .**

**د پلټنو په پایله کې معلومه شوه چې د یادې شبکې یوې څانګې په المان کې موقعیت درلود او فرانسې ته یې شاوخوا ۸۰ کښتۍ او د کښتۍ موټورونه استولي دي. د دغې شبکې بله څانګه هالنډ کې د کښتۍ چلوونکو وسایلو لکه د ژغورنې واسکټونو چمتو کولو کې ښکېل وه. دوو تنو نورو په فرانسه کې فعالیت درلود او کډوال یې فرانسوي سواحلو ته انتقالول او کښتیو کې یې سپرول .**

**پلټونکو دا هم موندلې چې یادې شبکې د هرو ۵۰ کډوالو د انتقال په بدل کې ۱۰۰ زره یورو ترلاسه کولې او د کډوالو لویې ډلې یې په ۱۲ کسیزو کښتیو کې برېتانیا ته لېږدول کېدل .**

**دا هم ولولئ**
**<u>د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د کډوالو اوښتل: د سوم پر سواحلو د امنیتي تدابیرو ډېرېدل</u>**

**د ځانګړې اداري جوړول**

**په تېرو څو کلونو کې فرانسوي او برېتانوي چارواکو د انګلیس کانال له لارې برېتانیا ته د کډوالو د اوښتو د مخنیوي لپاره سخت تدابیر نیولي دي .**

**د برېتانیا حکومت د سپتمبر په ۱۵مه د پولو د امنیت د تامینولو لپاره د یوې ځانګړې اداري د جوړولو اعلان وکړ. دا وروسته له هغه چې د یکشنبې په ورځ انګلیس کانال کې د کډوالو د کښتۍ ډوبېدو پېښې له امله ۸ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ.**

**لومړي وزیر کیېر ستارمر د خپل ټاکنیز کمپاین پر مهال له نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې په موخه د یوې ځانګړې اداري د جوړولو ژمنه کړې وه .**

**ډاونینګ سټریټ یا د لومړي وزیر دفتر د یادې اداري په اړه ویلي چې دا مرکز به «د پولیسو او استخباراتو ترمنځ د همغږۍ دنده لري او موخه یې دا ده چې له نورو اروپایي هېوادونو سره یو ځای د پلان شویو جرمونو په اړه پلټنې وکړي.«**

## رسانه‌های ایران: در یک حادثه ترافیکی در ایران ۱۱ شهروند افغانستان جان باختند

خامه پرس




**رسانه‌های ایرانی گزارش داده‌اند که در یک حادثه ترافیکی در ولایت سیستان و بلوچستان ۱۱ شهروند افغانستان جان باختند.**

**طبق گزارش‌ها، این حادثه بر اثر برخورد یک موتر حامل مهاجران با یک موتر باربری رخ داده است.**

**جمعیت هلال احمر سیستان و بلوچستان گفته است که این حادثه بامداد (سه‌شنبه، ۱۰ میزان) در جاده سراوان به کوهک رخ داده است.**

جمعیت هلال احمر سیستان و بلوچستان همچنین گفته، در این حادثه به شمول دو راننده ۱۴ نفر دیگر نیز زخم برداشتند.

رسانه‌های ایران گفته اند که قربانیان این حادثه از شهروندان افغانستان بوده‌اند که به صورت غیرقانونی وارد ایران شده بودند

## استقبال از دستآورد تاریخی تیم ملی فوتسال افغانستان

دویچه وله




تیم فوتسال افغانستان با "دستاورد تاریخی" الهام بخش جوانان شد. این تیم برای اولین بار به مسابقات جام جهانی راه یافت و لحظات خوشی را برای مردم افغانستان رقم زد .

تیم ملی فوتسال افغانستان با رسیدن به مرحله یک هشتم نهایی جام جهانی به "دست آوردی تاریخی" رسید. این تیم در دورانی که حاکمیت طالبان و ممنوعیت هایش کشور را به شدت غمزده کرده، برای مردم این کشور لحظات خوشی را رقم زد .مصطفی با الهام گرفتن از ظهور "فوق العاده" تیم ملی فوتسال کشورش، هر صبح زود بیدار می‌شود تا در یک مجموعه ورزشی مزدحم در مرکز شهر کابل تمرین کند.